# د سعود بنګش ((شندي ګل))

محمد اشرف غمګين

د سعود بنګش شعري مجموعۀ کلام د ((شندي ګل)) په نوم په ۳۲۳ مخونو خور کال ۲۰۰۹ء کښې چاپ دے. شاه سعود خان بنګش د هنګو په مردوخېل تپه کښې په ۱۵ اپرېل ۱۹۶۵ء کښې د سعدالدين کره په کوهي باغ کلي کښې سترګې غړولې دي. په USSR کښې د تاشقند لېنن پوهنتون کښې ئې په صحافت کښې ايم اې کړې ده. په شاعرۍ کښې خپل قلمي نوم سعود بنګش ليکي. په دې کتاب مختصر تقريظ د شاه سعود بنګش مېرمن ليکلے دے چې د خپل خاوند شاعري ئې راغونډه کړې، ترتيب او تدوين کړې، د چاپ تر مرحلې تېره کړې ده چې د پښتو ژبې لويه نېکمرغي ده او سعود بنګش صېب ئې مننه کړې ده.

پښتو ادب کښې د ښځو ليکونکيو تعداد ډېر کم دے او هم دغه رنګ خپلو مېړونو، پلرونو، ورونړو سره د پښتو ژبې پرمختګ او د پښتو شعر و فن خدمت کښې تنګيالۍ زنانه په خپله مرسته خپله برخه زياتولے شي او ورسره پښتو وائي، پښتو ليکي، پښتو لولي. هم خرما او هم ثواب دے چې ادبي تاريخ به ئې د سرو زرو په اوبو د ليکلو مناسب وي. پښتو ژبه خو مونږه ته هم مياندو ښودلې ده او دا امانت محفوظ ساتل د پښتو ژبې ويونکيو نر ښځو دواړو باندې لازم دي. د کتاب سر ورق ښکلے دے، په قول د سعود بنګش "شندي ګل" د هنګو په غرونو کښې د خورو ورو ګلونو نوم دے.

کلے د قيصو جاله وي. زمونږه کلي کښې هنګو د سرکار د پوليس په ټرېننګ سنټر مشهور دے چې د غرونو ګټان پرې د يو ځايه تر بل ځايه وړي راوړي. د مذکوره سنټر په سټېج د خاکو او مشاعرو ادبي محفلونو دود هم شته. بقول راوي ما پرې د اشرف غمګين ډېر غزلونه پېش کړي دي. بهر حال استاذ ولي محمد طوفان صېب د باچا خان بابا د خدائي خدمتګار سرخپوش شاعر عبدالرازق حکمت صېب شعري مجموعه "ګل" چاپ او خوره کړه او دا هغه بختور غرې دي چې د نور قاسم د شاعرۍ د کتاب "خال" په حواله ئې وئيلے شم چې د هنګو په خواوشا سيمه کښې د نوي کول د کهکشان د قلم د خاوندانو يو لوئے نوم دے. "شندي ګل" د "خال" نه زيات لائق دے.

"شندي ګل" دې ئې مبارک شي. زۀ ورته ومبارکي ورکوم.